**Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English**
Abbreviated Key Title: *Spr. Multidiscip. J. PS. Per. E.*
Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe/
**ISSN: 2584-0975 (online)**
*Vol.1(01). Sep 2023, pp, 22-28*
OPEN ACCESS

*Research Article*

# Identification of Morphic Species

# د مورفیمیکو جوړو پېژندنه

**Abdul Azim Sadiqmal[1*], Baryalay Azizi[2]**
عبدالعظیم صدیقمل[1*]، بریالی عزیزي[2]

[1]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Syed Jamal Uddin Afghani University, Afghanistan
سیدجمال الدین افغان پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي، پښتو ژبې او ادب څانګه
[2]Department of Pashto Language and Literature, Nangarhar University, Afghanistan
ننګرهار پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانګه

**DOI:** 10.55559/smjppe.v1i01.163 **Received:** 10.07.2023 | **Accepted:** 15.08.2023 | **Published:** 20.08.2023

**Electronic reference *(Cite this article):***
Sadiqmal, A. A., & Azizi, B. (2023). Identification of Morphic Species: د مورفیمیکو جوړو پېژندنه. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, *1*(01), 22–28. https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i01.163

**Copyright Notice:**
© 2023 the Author(s). This is an open access article published by Sprin Publisher under the Creative Commons' Attribution 4.0 International (CC BY 4.0) licence. https://creativecommons.org/licenses/by/4.0/

## Abstract

This study entitled "Introduction to Morphemic Pairs" is a critical research on the classification of morphemes that are not single morphemes but pairs of morphemes in the field of morphology. In order to make the subject clearer, this article has covered all those morphemes which are considered as single morphs by the researchers; however, they are not single morphs. In order to make this issue more clearly, the definition of morphology and morpheme have also been discussed in this study which is not part of the particular classification. The study shows that personal pronouns, relative pronouns, some adverbs and metaphoric symbols are not single morphs but pairs. The study begins with a preface and importance of the study, questions, aims, methods and conclusion of the study and references are other topics included in the study.

**Keywords:** *Pashto, Morphology, Morpheme, Morphemic Pairs, Nominal Groups*

## لنډیز

دغه لیکنه د مورفولوژۍ په برخه کې د مورفیمونو پر ډلبندۍ یوه کره کتنیزه څېړنه ده چې د مورفیمونو هغه ډولونه را په ګوته کوي چې له اره یوازینی مورفیم نه دی، بلکې د مورفیمونو یوه جوړه یا غونډ دی. د دې له پاره چې یاده موضوع ښه روښانه شي نو ټولې هغه مورفیمکې جوړې په ګوته شوې چې د څېړونکیو له خوا یو مورفیم شمېرل شوی خو هغه یو مورفیم نه دی. د خبرې د څرګند ثبوت له پاره د مورفولوژۍ او مورفیم پر تعریفونو هم بحث شوی چې یادې ډلبندۍ ورسره اړخ نه لګوي. په دې لیکنه کې اضافي ضمیرونه، ارتباطي ضمیرونه، ځینې قیدونه او تشبیهي ویکې یوازیني مورفیمونه، نه بلکې مورفیمیکې جوړې وګڼل شوې. دغه څېړنه

په سریزه پیل شوې چې د موضوع ارزښت، پوښتنې، موخې، مېتود پکې ځای پر ځای شوي او ورپسې اصل متن راغلی چې په پایله او د اخځونو په نوملړ بشپړه شوې ده.

**کلیدي کلمې:** پښتو، مورفولوژي، مورفیمیکه جوړه، نومیزې ډلې.

**سریزه**

دا چې ژبه له غږونو او فونیمونو راپیل شوې چې په ترتیب سره ترې وییونه، غونډونه، جملې او لوی لوی متنونه او ویناوې جوړې شوې دي. د هر یو د ښې پوهېدنې له پاره بېلابېلې څانګې او څانګوړې مینځ ته راغلې دي چې ژبه په سیستماتیکه توګه و څېړل شي. د ژبپوهنې د نورو څانګو تر څنګ تشریحي ژبپوهنه ډېره اړینه ده چې په دې کې ګرامر ځای لري او په ګرامر کې دوې لویې برخې مورفولوژي او غونډله پوهه راځي چې د مورفیمونو او غونډلو پر جوړښت او ګردان همدغه دوې برخې بحث کوي.

دا چې د معاصرې ژبپوهنې مطالعه په شلمه پېړۍ کې مینځ ته راغلې او د نړۍ ډېرې ژبې او دهغو ګرامرونه پر دغو علمي او کره معیارونو برابر شول او ډېرې ژبې یې د ژبو له ادرسه وڅېړلې. پښتو هم له همدې پرکته آره کورنۍ ومونده او هم یې په نورو برخو کې د پام وړ پرمختګونه وکړل، خو بیا هم په ځینو برخو کې ستونزې شته دي، لکه: د فونیمونو د ډلبندۍ په برخه کې او هم د ګرامر په ساحه کې د مورفولوژي او غونډله پوهې برید او پوله ځرګندول چې کومه ګرامري موضوع د کومې برخې پورې وتړل شي.

په همدې ترتیب ځینې بنسټیزې ستونزې دي هغه باید له تعریفونو او ډلو د نومونو په بدلولو پایېږي، لکه: د مورفیم تعریف او بیا د هغه ډولونه کره کول او د یو تعریف لاندې راوستل یوه بله څېړنه غواړي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

دا چې مورفولوژي د ګرامر یوه غوره او لویه برخه ده چې له دې پرته د ژبې ګرامري څېړنه ناشونې بریښي نو په کار ده چې د مورفولوژي اساسي او بنسټیزه موضوع «مورفیم» باید ښه و څېړل شي او هر ډول ته یې کره نوم ورکړل شي چې د مورفیم او مورفولوژي د بنسټونو سره په ټکر کې نه وي. د دې څېړنې ارزښت به دا وي چې زموږ څېړونکي او ژبپوهان به دې ته خپل پام ورواړوي چې څنګه د مورفیمونو ډلبندي کره کړي.

**د څېړنې موخې**

- ✓ د مورفیمونو په برخه کې پرله پسې څېړنه.
- ✓ د مورفیم له پېژند سره د هغه ډولونه برابرول.
- ✓ مورفیم د یو نه تجزیه کېدونکي واحد په توګه جوتول.
- ✓ د مورفیمونو د ډلبندۍ په اړه د څېړونکیو پام راړونه.

**د څېړنې پوښتنې**

- ✓ ایا په پښتو مورفولوژي کې مورفیمیکې جوړې شته او که نه؟
- ✓ ایا اضافي نومځري مورفیمیکې جوړې دي؟

- ✓ اضافي نومځري يو واحد مورفيم دی او که نه؟
- ✓ له نومځرو پرته نورې مورفيميکې جوړې لرو او که نه؟
- ✓ مورفولوژي نوې څېړنې غواړي که نه؟

## مېتود یا کړنلاره

د دغې څېړنې مېتود تشرېحي دی او په تشرېحي کې بيا د پخوانيو څېړنو پرتليز او کره کتنيز جاج اخېستل شوی دی او د څېړنې بنه يې کتابتوني ده.

## د مورفیمیکو جوړو پېژندنه

مورفولوژي د تشرېحي ژبپوهنې يوه غوره څانګه ده چې د مورفيمونو ګردان، جوړښت او نورې خواوې څېړي. تر دې دمه چې کوم ګرامرونه او د ژبپوهنې اثار ليکل شوي دي. د مورفولوژي او مورفيم پېژندنې يې په لاندې ډول کړې دي:

مورفولوژي د يوناني ژبې اصطلاح ده چې له دوو کليمو مورف «morph» او لوژي «logy» څخه رغېدلې ده. په يوناني کې مورف د شکل په مانا او لوژي د علم، پوهې او پېژندنې مانا لري. په لغوي لحاظ دا کليمه د يوې ژبې د لفظي اشکالو د علم، پوهې او پېژندنې په مانا راغلې ده. يا په بل عبارت: مورفولوژي د تشرېحي ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په هغې کې د يوې ژبې د مورفيمونو له ترکيب او تجزيې څخه خبرې کېږي. (شيرزاد، ۱۳۹۱ل: ۸-۷ مخونه)

«ګړ يا مورفيم د ژبې تر ټولو کوشنی مانيز توک دی چې له دوو يا څو اوازونو له يو ځای کېدو څخه رغښت مومي او له شنل کېدو څخه يې ساده اوازونه لاس ته راځي. که يووستوی ساده اواز مانا ولري هم ګړ يا مورفيم بلل کېدای شي خو هغه به هرومرو د يو پخواني «اوازغونډ» لنډيز وي.» (زيار، ۱۳۸۴ل: ۸۴ مخ)

د مورفيم يو بل پېژند پر دې ډول دی: «مورفيم هغه کوچنی ژبنی مانيز واحد دی، که تجزيه خپله مانا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزيه کېدو څخه بې مانا اوازونه لاس لاس ته راځي يا مورفيم يو نه تجزيه کېدونکی مانا لرونکی واحد دی.» (خوېشکی، ۱۳۹۴ل: ۲۰مخ)

تر اوسه پورې چې د مورفيم کوم تعريفونه شوي دي نو د هر يو تعريف بنسټ «کوچنی مانيز واحد» دی چې له کوچنيوالي واوړي بيا ترې وييونه او ترکيبونه جوړېږي.

پورته مې يادونه وکړه چې د مورفيم په تعريف کې د «کوچني مانيز واحد» اصل اړين ښودل شوی دی. دلته پوښتنه پيداکېږي چې د مورفيمونو په ډولونو کې داسې څه تر سترګو کېږي چې هغه ته يوازينی مورفيم ويل تېروتنه ګڼل کېږي.

دغه مسئله که له مورفولوژي وباسو هم د يو لړ پوښتنو سره مله ده او که نه يې وباسو نو د مورفولوژي د مطالعې ساحه چې مورفيم دی د هغه سره ټکر پيداکوي. ښه به دا وي چې دا په مورفولوژي کې د يو ځانګړي سرليک لاندې وڅېړل شي چې هغه ته بايد «مورفيميکې جوړې» وويل شي.

مورفیمیکې جوړې د هغو دوو مورفیمونو یوځای والی دی چې په ګرامرونو او ژبنیو څېړنو کې ورته د یو مورفیم نسبت شوی دی، لکه: ملکي ضمیرونه، ارتباطي ضمیرونه، قیدونه او نور. که له دوو ډېر شي بیا ورته مورفیمیک غونډ ویل کېږي.

## اوس دلته مورفیمیکې جوړې درپېژنم:

**۱ ـ ملکي یا اضافي نومځري:** که د خپلواکو مورفیمونو ډلبندۍ ته ځیر شو نو نومځري یې د نومیزې ډلې یو ډول دی چې په ټولو ګرامرونو کې د شخصي نومځریو پسې ملکي نومځري راغلي دي. تراوسه په یوه ګرامر کې هم دا یادونه، نه ده شوې چې ملکي نومځري یوازینی مورفیم نه بلکې یوه مورفیمیکه جوړه ده. ځکه چې د اضافت له «وییکي» او «شخصي نومځري» څخه رغېدلي دي.

ډېره حیرانوونکې خو داده چې نومځری د مورفیم یو ډول ګڼل شوی دی بیا چې کله د نومځري پر پېژندنې بحث کېږي هلته ورته د «کلیمې» او «ویي» په نوم نغوته شوې ده. لکه: په دغو تعریفونو کې:

ـ نومځری هغه وییـ دی چې د یوه ځیز نوم ښکاروندیي کوي، د هغه پر ځای راځي او یا یو نیم یې لکه نغوتنومځري ملګرتیا کوي او د همدغې دندې له مخې د نومونو په ډله کې ځای نیسي یا نومځری له هغې ډلې وییونوـ څخه دی چې په یوه غونډله یا وینا کې د یوه نوم یا نومغونډ ځای ناستی کېږي. (زیار، ۱۳۸۴ل: ۱۱۵مخ)

په پورته پېژند کې د نومځري یا ضمیر له پاره ویی او وییونه کارول شوي دي. همدارنګه هغه تعریفونه هم را اخلم چې ضمیر ته کلیمه کارول شوې ده. خو دا یوه منلې خبره ده چې هر مورفیم ویی یا کلیمه نه شي کېدلای او نه هر ویي ته مورفیم ویلای شو.

ـ نومځری یا ضمیر هغه خپلواکه کلیمه ده چې د نوم پر ځای د تکرار د لرې کولو له پاره راځي. (شېرزاد، ۱۳۹۱ل: ۷۳مخ)

ـ ضمیر هغه کلیمه ده چې د یوه نوم نماینده ګي کوي، یا د نوم پرځای کاریږي چې پخوا په کلام کې د هغه ذکر راغلی وي. د ضمیر دنده په خبرو کې د تکرار مخنیوی دی. (خوېشکی، ۱۳۹۴ل: ٦٩ مخ)

دا په داسې حال کې ده چې په پورتنیو آثارو کې نومځري د مورفیم یو ډول ګڼل شوی دی. هغه مهال دغه تعریفونه ډېر ښه برېښېدل چې نومځری د لغت یو ډول وای نه د مورفیم. پخوانیو څېړنو ضمیر ته ځکه د کلیمې او ویي اشاره کړې چې هلته د مورفیم نومونه د پام وړ نه وه، لکه: پوهاند رښتین په ژبنیو څېړنو کې چې د ضمیر په اړه لیکي: «ضمیر هغه کلیمه ده چې د نوم پرځای د تکرار د لرې کولو او د وینا د لنډیز له پاره راځي او د نوم ځای نیوونکی ورته وایي.» (رښتین، ۱۳۷۲ل: ۱۴۳مخ)

هغه څېړونکي چې د مورفیم نومونې ته ژمن وي باید د مورفیمونو ډلبندي یې منطقي تړاو ولري. پر همدې بنسټ زه اړ یم چې د مورفولوژي په ساحه کې داسې توکونو ته مورفیمیکې جوړې ووایم.

ملکي یا اضافي نومځري پر دې اساس مورفیمیکې جوړې دي چې جوړښت د «اضافت» له «دال» او شخصي نومځریو څخه رغښت مومي نو پر دې اساس ورته یوازینی مورفیم نه شو ویلای.

د لومړي شخص اضافي نومځري: «زما» او «زموږ» دي چې دا له اره «دما» او «دموږ» دي چې په تاريخي فونولوژيکي بدلون کې په «زما» او «زموږ» بدل شوي دي چې ځينو ګړدودونو کې لا په هماغه بڼه پاتې دي. په دې «ما» او «موږ» شخصي ضميرونه دي او «ز» پکې د «دال» د الومورف په توګه راغلی ده. پر همدې اساس اضافي نومځري يوازيني مورفيمونه، نه دي بلکې مورفيميکې جوړې دي.

د + شخصي نومځری= اضافي نومځری

د (ز) + زه(ما) = زما

د (ز) + موږ = زموږ

د دويم شخص اضافي نومځري: «ستا» او «ستاسې» دي چې دا هم له اره «دتا» او «دتاسې» دي چې د «دال» پر ځای «س» راغلی دی.

د (س) + ته(تا) = تاسې

د (س) + تاسې = ستاسې

د درېيم شخص اضافي نومځري: «دده» ،«د دې» او د دوی دي.

د + دی = د ده

د +دا = د دې

د +دوی = د دوی

په پښتو کې چې کله د اضافت دال د اوښتونکي نوم د مخه راشي نو نوم بيا په اوښتې بڼه راځي. شخصي نومځري له «موږ»، «تاسې» او دوی پرته نور ټول اوښتونکي نومونو په ډله کې راځي، ځکه «زه» پر «ما»، «ته» پر «تا»، «دی» پر «ده» او همدارنګه «دا» پر «دې» اوښتي دي.

مخکې مې يادونه وکړه چې د اضافت دال د هر اوښتونکي نوم د مخه راشي په اوښتې بڼه راځي. لکه په دې بېلګو کې:

د زرمينې قلم، زما قلم، چا قلم، ستا قلم، د ده قلم، د سړي کتاب او نور.....

په پورته بېلګو کې: زرمينه، زه، څوک، دی او سړی اوښتونکي نومونه دي چې د «د» په راتلو سره ټول په دويمه يا اوښتې بڼه راغلي دي. د دې له پاره چې موضوع ښه روښانه شي د شخصي نومځريو اوښتې بڼې به هم بيان کړو، ځکه چې په ټولو اضافي نومځريو کې د شخصي نومځريو اوښتې بڼې کارېدلې دي. د دې له پاره لاندې غونډلې لولو:

اره بڼه اوښتې بڼه

زه درس لولم. ما درس ولوست.

ته درس لولې. تا درس ولوست.

دی درس لولي. ده درس ولوست.

دا درس لولي. دې درس ولوست.

هر اوښتونکی نوم چې د متعدي فعل سره په تېر مهال کې د فاعل په توګه راشي په اوښتې بڼه راځي. په پورته بېلګو کې هغه ضميرونه راوړل شوي چې اوښتې بڼې يې لرلې.

په لنډه توګه دومره ويلای شو چې په «زما» کې «ما» د «زه» اوښتې بڼه ده، په «ستا» کې «تا» د «ته» اوښتې بڼه ده، په «د ده» او «د دې» کې «ده» د «دی» او «دې» د «دا» اوښتې بڼې دي. چې د مخه ترې د اضافت دال راشي بيا يې اضافي نومځری شمېرلی شو.

**۲ ــ اړيکنومځري يا ارتباطي ضميرونه:** دغه نومځري هم يوازيني مورفيمونه، نه دي بلکې له مورفيمي جوړو او غونډونو څخه په لاس راځي چې د پېژند راوړل يې هم اړين بولم. د اړيکوييکو او نورو نومځريو يو ځای راتلل اړيکنومځري جوړوي. (زيار، ۱۳۸۴ل: ۱۲۲مخ)

چې نښې بېلګې يې دا دي: څوک چې، دا چې، داسې، کله چې، چېرې چې، څومره چې، څه چې، چا چې او داسې نور نومځري مورفيمي جوړې ګڼلای شو. لکه اجمل ختک چې وايي:

ځئ هغه خوارو ته جنت وګټو ـــــــــــــ <u>څوک چې</u> له موره دوزخيان پيدادي

**۳ ــ قيدونه**: قيدونه هم د خپلواکو مورفيمونو يو ډول دی چې د مورفيم په وېشنه کې د د نومونو او فعلونو سره په څنګ کې راځي. که څه هم په پښتو کې د اصلي قيدونو شمېر کم دی خو ځينې داسې قيدونه شته دي چې ساده مورفيمونه يې نه شو ګڼلای ښه به دا وي چې د قيدونو هغه بېلګې دروپېژنم چې په جوړښت کې يې دوه يا درې مورفيمونه ونډه لري.

د حالت او ټينګار ډېر اصلي قيدونه له يو څخه ډېر مورفيمونه لري چې بېلګې يې په لاندې ډول دي: همدا راز، په همدې ډول، په زغرده، په ښکاره، په پټه، په څرګنده، په غلا، په زيار، په مېړانه، په زور، په ټينګه، په ملاسته، په هر راز، په هره توګه او داسې نور. (زيار، ۱۳۸۴ل: ۲۰۰مخ)

پورته هرې بېلګې ته که موږ ځير شو هر يو قيد له دوو او يا هم له درېيو مورفيمونو څخه رغېدلی دی. هغه چې له دوو مورفيمونو څخه رغېدلی دی مورفيميکه جوړه بلل کېږي او چې په جوړښت کې يې له دوو څخه زيات مورفيمونه راغلي دي هغه د مورفيميک غونډ په نوم يادولی شو.

**۴ ــ ورتني يا تشبيهي وييکي**: چې په ځينو ګرامرونو کې حروف تشبيه هم بلل کېږي. دا هغه اوستربلونه دي چې د دوو يا زياتو څيزونو يا پدېدو ورته والی او مشابهت ښيي. لکه: ورته، غوندې او نور. (زيار، ۱۳۸۴ل: ۲۰۳مخ)

تشبیهي وییکي د مورفیمونو په خپلواکه ډله کې نه راځي خو بیا هم ډېری داسې مورفیمیکې جوړې شته دي چې له دوو ناخپلواکو مورفیمونو څخه رغېدلې وي خو بیا هم د یو خپلواک مورفیم دنده نه شي پر ځای کولای. کله چې دوه ناخپلواک مورفیمونه د یو خپلواک مورفیم دنده پر ځای کړي. بیا د یو خپلواک مورفیم په توګه را څرګندېږي چې ښې بېلګې یې وییکنومځري یا اداتي ضمیرونه دي، لکه: «پکې» چې د «په» او «کې» څخه جوړ شوی دی. همدارنګه «ځنې» چې د «ورڅخه» څخه مینځ ته راغلی او د اداتي ضمیرونو نور ډولونه هم په همدې ډول شمېرلی شو. اوس راځو دې ته چې کوم تشبیهي وییکي دي چې له دوو مورفیمونو څخه رغېدلي دي، لکه: په څېر، په ډول، په شان، په رنګ او داسې نور چې یو یې هم له یو مورفیم نه نه دی جوړ شوی نو ځکه یې مورفیمیکې جوړې بولو.

**پایله**

کله چې مورفولوژي د مورفیمونو د څېړنې علم او پوهه ګڼو او بیا مورفیم هغه کوچنی ژبنی مانیز توک ګڼو چې د شنلو او د تجزیې وړ نه وي او یا هم هغه مانیز واحد دی چې له تجزیه کېدو څخه یې بې مانا اوازونه لاس ته راځي. پر همدې ترتیب په پرله پسې توګه یې ډولونه هم د همدې پېژند په رڼا کې برابرول په کار دي.

د پایلې په توګه باید ووایو چې د مورفیمونو په شوې ډلبندۍ کې ځېنې داسې ډولونه او ډلګۍ شته چې له اره یو مورفیم نه دی خو په شویو څېړنو کې د یو(واحد) مورفیم په کتار کې درول شوي چې په دغې څېړنې کې هغه یوازیني مورفیمونه، نه بلکې مورفیمیکې جوړې ونومول شوې. په دې ډله کې اضافي نومځري، ارتباطي نومځري، د حالت او ټینګار ځېنې قیدونه او هم په ناخپلواکو مورفیمونو کې د تشبیهي وییکي راوړل شوي چې د هر یو په جوړښت کې دوو یا دریو مورفیمونو ونډه اخیستې وه. د دې له پاره دا کار اړین و چې دغه ډولونه د مورفیم د پېژند او تعریف سره ټکر درلود او په ژبه کې د مطالعې او زده کړې پر وخت محصلانو او مینه والو ته غیر منطقي برېښېي. په دې برخه کې ښې لاس ته راوړنې ولرو، په کار ده چې د مورفولوژي او غونډله پوهې د بریدونو د ټاکلو له پاره تازه او نوې څېړنې وشي، په دې برخه کې به بې ګټې نه وي.

**اخځلیکونه**


اورمړ، خلیل الله.(۱۳۹۰ل). زبان دری، فارسی میانه، فارسی باستان.کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

پېښوری، ش ک. (۱۳۹۱ل). د پښتو ګرامر (پخپله ښه کې). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

رښتین، صدیق الله. (۱۳۷۲ل). پښتو ګرامر (ژباړن – سید محی الدین هاشمي). پېښور: یونیورستي بُک ایجنسي.

صدیق الله رښتین. (۱۳۷۲ل). پښتو ګرامر. پېښتور: یونیورستي بک ایجنسي.

مجاور احمدزیار. (۱۳۸۴ل). پښتوپښویه. پېښور: دانش خپروندویه ټولنه.

محبوب، محبوب شاه. (۱۳۹۸ل). پښتو ژبدود. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

محمداقا شېرزاد. (۱۳۹۱ل). پښتو ګرامر(مورفولوژي). کابل: د هند د یپرو مطبعه.

محمدصابر خوېشکی. (۱۳۹۴ل). فونولوژي مورفولوژي. ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۸۳ل). د پښتو ژبې لنډ ګرامر. خپرونکی: اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره.